مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي پنځمه | د ۲۰۲۱ د مې ۲۶مه | ۷۲۲مه گڼه

## کتاب

۴ مخ

### تلاش افغان ها برای صلح




د دې لیکونو یو مهم ارزښت دا دی، چې موږ ته د نن او سبا لپاره د تاریخي درس په توگه پاتې کېږي. د سولې بېلابېلې طرحې حتی د ملگرو ملتونو له جدي ملاتړ سره سره ولې ناکامې شوې؟ وطن څنگه د نویو جگړو پر ډگر بدل شو؟

# د ډیپلوماتیکو پلونو د نړېدلو گواښ؛

## استرالیا په کابل کې په موقتي توگه د خپل سفارت د تړلو پرېکړه کړې ده



۳

### د استرالیا سفارت تړل کېدل او د ډیپلوماتیکي انزوا د خطر زنگ

۲ مخ

### تغییری در نگاه دموکرات‌های آمریکا به درگیری‌های اخیر اسرائیل-غزه؟

۲ مخ

### پاکستان اوس ولې په بلوچستان کې پوځي اډه جوړول غواړي؟

۳ مخ

## الکو: د هلمند د شاتو سږني تولیدات به نږدې ۳۷ ټنو ته ورسېږي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې د شاتو د تولید کچه څه باندې ۳۵ ټنو ته ورسېده. د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو زیاتوي چې په دغه ولایت کې د شاتو مچیو روزلو کاروبار په غوړېدو دی، چې اوسمهال سلگونه کسان پکې په کار بوخت دي او له همدې لارې خپلې اقتصادي اړتیاوې پوره کوي.

د هغه په خبره، تېر کال د دغه ولایت د شاتو د تولید کچه ۲۴.۵ ټنه وه، چې سږکال به دا کچه ۳۵.۷ ټنو ته لوړه شي. الکو زیاتوي، چې د هلمند د کرنې ریاست له خوا کروندوگرو ته نږدې ۴۰۰ د شاتو مچیو فارمونه جوړ شوي چې د هرکال په تېرېدو سره یې مچۍ او د شاتو تولید په زیاتېدو دي.

د هغه په خبره، اوسمهال د دغه ولایت په فارمونو کې ۱۳ زره او ۱۲۰ صندوقه مچۍ تر روزنې او پالنې لاندې دي.

## ناټو: د افغان ځواکونو دوامداره روزنې او تمویل ته دوام ورکوو

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ د استونیا له لومړۍ وزیرې کاجه کلاس سره یوې گډې خبرې غونډې ته په خبرو کې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه ځرگندونې کړې دي.

سټولټنبرگ ویلي چې دوی له افغانستان څخه د ځواکونو د وتلو په اړه له خپلو متحدینو سره پوره همغږي لري او د یوه منظم پلان له مخې به ټول سرتېري له افغانستان څخه وباسي، خو نوموړي ټینگار کړی چې ناټو به له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. هغه زیاته کړې چې ناټو به د افغانستان له خلکو سره یو ځای په دغه هېواد کې د تلپاتې سولې لپاره هلې ځلې وکړي او دغه راز به د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو دوامداره روزنې او ملاتړ ته هم ژمن پاتې شي.

له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په تړاو د بایډن له اعلان وروسته ناټو او د دغه سازمان متحدینو هم اعلان وکړ چې د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې به خپل ټول سرتېري له افغانستانه وباسي، خو له دغه هېواد سره به یې مالي مرستې دوام وکړي. تازه ناټو ویلي چې د مالي مرستو ترڅنگ به له افغان ځواکونو نظامي ملاتړ ته هم دوام ورکوي او د دغو ځواکونو د روزنې ماموریت به په یوه دریېم هېواد کې پرمخ وړي.

## سولې وزارت: ډېر ژر به له طالبانو سره د سولې خبرې بېرته پیل شي



۲ مخ

## مقامات: در ۱۰۴ ولسوالی نبردهای شدید میان طالبان و نیروهای امنیتی جریان دارند



سران نهادهای امنیتی کشور از ادامهٔ نبردها میان نیروهای دولتی و طالبان در یک صدو چهار ولسوالی کشور خبر میدهند.

احمد ضیا سراج، رئیس عمومی امنیت ملی در نشست پاسخ‌گویی به مجلس سنا می‌گوید که حمله‌های طالبان در مقایسه با سال پار هفت درصد افزایش را نشان می‌دهند؛ و این گروه از آغاز سال روان تاکنون نزدیک به سه هزار و پنجصد حمله در کشور انجام داده‌اند.


اما سرپرست وزارت امور داخله جنگ کنونی را تبلیغات کشورهای منطقه می‌داند و می گوید که پولیس در کنار ارتش برای جلوگیری از سقوط بخش‌های کشور می کوشد.

مشرانو جرگه مسؤولان بلند پایه نهادهای امنیتی را برای پاسخ‌گویی در بارهٔ بدتر شدن اوضاع امنیتی دیروز به این جرگه فرا خواندند. اما ظاهرن به دلیل مصروفیت نیروهای ارتش درمیدان‌های جنگ، کسی از وزارت دفاع ملی به سنا نیامده بودند. سناتوران سقوط مرکزهای شماری از ولسوالی‌ها و نیز پاسگاه‌های دولتی در بخش‌های کشور را، پرسش برانگیز می دانند.

محمد علم ایزدیار، معاون نخست مشرانو جرگه در این باره گفت: «مشکل سیاست گذاری است، مشکل مدیریت و مشکل برخوردهای سلیقوی و سیاسی در برابر نیروهای امنیتی و دفاعی است که مارا با یک مشکل کلان مواجه ساخته است.»

رحمت الله اچکزی، سناتور گفت: «طالبان به گونه گروهی به محبس لغمان می رسد، هلمند و بغلان می رسد، وظیفه رئیس امنیت است که باید تدابیر پیشگیرانه داشته باشد.»


## فروش زمین



یک قطعه زمین به مساحت {9080 متر مربع} واقع قرغه {ناحیه 5 ، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### د استرالیا سفارت تړل کېدل او د ډیپلوماتیکې انزوا د خطر زنګ

استرالیا وایي چې تر راتلونکې جمعې پورې په کابل کې خپل سفارت تړي. د استرالیا لومړي وزیر سکاټ موریسن ویلي چې د نامعلوم امنیتي حالت له امله دا پرېکړه کوي. په کابل کې د استرالیا سفارت وایي، هیله ده حالت ښه شي او دوی بېرته کار پیل کړي. افغان حکومت هم وایي، له دې پرېکړې خبر دی، درناوی یې کوي او هیله لري چې دا کار لنډمهاله وي او دا سفارت بېرته خپل کار پیل کړي. حکومت وایي چې د ډیپلوماتو او سفارتونو امنیت ته پام کوي او طالبانو هم ویلي چې د دوی له خوا ډیپلوماتانو ته کوم گواښ نشته شته او هغوی دې اندېښنه نه کوي.

دا لومړی ځل دی چې استرالیا له شلو کلونو وروسته په افغانستان کې خپل سفارت تړي. تر دې وړاندې د اپریل میاشتې په وروستیو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم په کابل کې د خپل سفارت هغو کارکوونکو ته له افغانستان څخه د وتلو امر کړی و چې له بهر څخه خپل کارونه کولی شي. داسې رپوټونه شته چې ډېرو سفارتونو له وړاندې خپل کارکوونکي محدود کړي، تګ راتګ یې کم کړی او امنیتي تدابیر یې زیات کړي دي. داسې وېره ده چې له استرالیا وروسته به ځینې نور هېوادونه هم داسې گامونه واخلي. د بهرنیو سفارتونو او قونسگریو تړل کېدل، د ډیپلوماتانو کمول او د نورو سیاسي رسمي استازولیو بندېدل به افغانستان یو ځل بیا له ډیپلوماتیکې انزوا سره مخ کړي. دا هغه حالت دی چې افغانانو د تنظیمي جگړو او بیا د طالبانو د واکمنۍ پر مهال تجربه کړی دی. دغه حالت افغانان داسې منزوي کړي وو چې نه یوازې د افغانستان پر سیاسي دریځ، اقتصاد او پرمختګ یې نه جبرانېدونکی منفي اغېز وکړ، بلکې افغانان یې په نورو هېوادونو کې له ذلت او خواریو سره مخ کړل. اوس چې استرالیا هم وایي سفارت تړي، خو کارکوونکي به یې خپل کارونه د سیمې په نورو هېوادونو کې کوي، دا د دې مانا لري چې افغانان به بیا بهرنیو هېوادونو ته د تګ لپاره زموږ گاونډیو هېوادونو ته ورځي او هلته به د گاونډیو ناوړه چلند زغمي. افغانان به بیا اسلاماباد ته ورځي، پاکستاني پولیس او نظامیان به ورسره زیاتی کوي او دوی به هلته د خپل قانوني کارونو لپاره رشوت ورکوي، ذلت به تېروي او ځورېږي به.

د افغانستان ډیپلوماتیکه انزوا، په کابل کې د سفارتونو تړل کېدل او سیمې ته یې لېږدول د اسلاماباد او د افغانانو د نورو دښمنانو هغه هیله ده چې له بده مرغه اوس خپله د ځینو افغانانو په لاس پوره کېږي. په کابل کې کمزوری، فاسد او بې کفایته حکومت، د طالبانو بې ځایه او وروستی نامشروع جگړه؛ هغه کړنې دي چې موږ افغانان یې کوو او د دښمن هیله پوره کوو. که حالت همداسې وي، جگړه وي، د سولې خبرې ورکې وي، اشرف غني او ټیم یې د سولې په چاره کې خنډونه جوړوي، شرطونه ږدي او سرې کرښې کاږي؛ که طالبان همداسې له افغانانو سره جگړې ته دوام ورکوي، تکبر کوي، نور نه مني او یوازې هغه څه مني چې دوی یې سم گڼي، نو افغانان به بیا په واقعي مانا ډیپلوماتیکې انزوا او ذلت ته ولاړ شي. بیا به مسوولیت د دوی وي او په هېڅ ډول به بیا دا خیانت توجیه نه شي کړلی.

# تغییری در نگاه دموکرات‌های آمریکا به درگیری‌های اخیر اسرائیل-غزه؟

آنتونی زورکر

تازه‌ترین درگیری‌ها بین اسرائیل و فلسطینی‌ها دقیقاً نشان داده که مرکز ثقل سیاسی حزب دموکرات در مورد این درگیری در سال‌های اخیر تا چه اندازه حرکت کرده است.

جان زاگبی، یک نظرسنج که برای دهه‌ها دیدگاه ایالات متحده در مورد خاورمیانه را ردیابی کرده می‌گوید: «این تغییر چشمگیر و زمینه‌ای است» به ویژه، نسل جوان به طور قابل توجهی دلسوز فلسطینی‌ها هستند و این فاصله سنی با حزب دموکرات کاملاً نمایان شده است.

در حالیکه جو بایدن با بیان اینکه اسرائیل حق دفاع از خود در برابر حملات موشکی حماس را دارد دیدگاه سنتی‌تری را ابراز داشته است او خود را دور از حزب می‌یابد که الان حداقل در ارتباط با شرایط محلی، به همان اندازه نگران فلسطینی‌ها در غزه و کرانه باختری و سیاست‌های اسرائیل در ایجاد شرایط و احوال آنهاست.

**تنوع دموکرات‌ها در کنگره**

برای پیگیری تغییرات در حزب دموکرات در مورد اسرائیل و فلسطینی‌ها می توان از نهادی که بیشتر از هر نهاد دیگری در آمریکا مردم را نمایندگی می‌کند یعنی کنگره شروع کرد.

در این پارلمان طرفداران سیاست خارجی ایالات متحده تمایل دارند که از نظر تاریخی به سمت نگرش اسرائیل در درگیری های خاورمیانه متمایل شوند که بخشی به دلیل ترجیح رای‌دهندگان یهودی (حوزه انتخابیه مهم حزب دموکرات) و مسیحیان انجیلی (مهم برای جمهوری خواهان) است.

از آنجا که کنگره ایالات متحده به یک نهاد متنوع و متکثر تبدیل شده، این وضعیت پیامدهای جدی برای سیاست آمریکا در قبال اسرائیل به همراه داشته است.

بر اساس مطالعه بنیاد پیو در سال ۲۰۲۱، بیست و سه درصد اعضای مجلس نمایندگان و سنا سیاه پوست، اسپانیایی تبار و از جزیره آسیایی/اقیانوسیه آمریکا یا بومی آمریکایی بودند. این رقم دو دهه پیشتر ۱۱ درصد و در سال ۱۹۴۵، ۱درصد بود.

تنوع زمینه نژادی و قومی منجر به تنوع وسیع‌تری از دیدگاه‌ها و توزیع قدرت شده است. به عنوان مثال، گروه بانفوذ زنان جوان لیبرال کنگره که به طور غیررسمی با نام عنوان «جوخه» شناخته می‌شوند، شامل رشیده طلیب که یک زن فلسطینی-آمریکایی از میشیگان و ایلهان عمر از مینه‌سوتا یک پناهنده سومالیایی است.

برجسته ترین عضو این گروه به نام الکساندیا اوکازیو-کورتز از نیویورک، با برکناری یک عضو ارشد رهبری کنگره دموکرات به نام جو کراولی به این مقام رسید که به طور مداوم طرف اسرائیل را درگیری‌های گذشته در سرزمین‌های اشغالی می‌گرفت.

به طور کلی رای دهندگان این حزب بیشتر به اوکازیون-کورتز ۳۱ ساله پورتوریکویی شبیه هستند تا کراولی ۵۹ ساله و این تفاوت ایجاد می‌کند.

زاگبی در پادکست بی بی سی آمریکا گفت: «یک جمعیت غیر سفیدپوست وجود دارد به ویژه در میان دموکرات‌ها که نسبت به رفتار با غیر سفیدپوست‌ها خیلی حساس هستند و اسرائیل را متجاوز می‌دانند. »

وی می‌گوید این گروه از تاریخ آغاز کشور اسرائیل و غلبه غیرقابل انتظار آن بر شداید متعدد اطلاعی ندارند.

او می‌گوید «اینها فقط تاریخ پس از انتفاضه را می‌دانند شامل جنگ‌های مختلف، بمب‌گذاری و بمباران نامتقارن و غیرنظامیان بی‌گناهی که کشته شدند.»

**عامل برنی**

اگر تنوع فزاینده در کنگره تا حدی نتیجه جنبش مترقی چپ باشد که کسانی مانند اوکازیو-کورتز را انتخاب کرد، آن جنبش مترقی چپ دین قابل توجهی به یک شخص دارد یعنی به برنی سندرز که یک سوسیالیست دموکرات از ایالت ورمونت است.

سندرز که در خانواده یهودی بزرگ شده بود و در دهه ۱۹۶۰ مدتی در اسرائیل گذرانده پیشتر به طور کلی نسبت به سیاست‌های اسرائیل دلسوز بود. اما وقتی برای اولین بار داوطلب نامزدی ریاست جمهوری در سال ۲۰۱۶ شد یک مرتبه از فلسطین حمایت کرد تا از سایر داوطلبان دموکرات متمایز شود.

در یک مناظره اولیه با هیلاری کلینتون در زمان حملات موشکی حماس به اسرائیل، سندرز مستقیماً در مورد اوضاع فلسطینیان از جمله بیکاری زیاد آنها، خانه های خرابشان، خدمات بهداشتی نابود شده و مدارس نابود شده آنها صحبت کرد.

همانطور که در آن زمان اد پیلکینگتون در روزنامه گاردین اشاره کرد، او یک «قانون نانوشته» را نقض کرد که گفتگو در مورد رنج فلسطین برای سیاستمدارانی که به دنبال مناصب بالاتر هستند ضرر دارد.

البته سندرز هر دو بار در نامزدی ریاست جمهوری ناکام ماند اما دیدگاه‌های وی دریچه ای را برای پرداختن به این موضوع در حزب دموکرات باز کرد زیرا بخش‌های دیگری از برنامه مترقی او را شامل می‌شد که شامل گسترش خدمات بهداشتی، تحصیلات دانشگاهی رایگان، حداقل دستمزد بالاتر و اصلاحات زیست محیطی بود.

از آن زمان، سندرز بنیامین نتانیاهو، نخست وزیر اسرائیل را محکوم کرده و او را «مستبد مستاصل، نژادپرست» خوانده و هفته گذشته در ستون اظهار نظر نیویورک تایمز مطلبی نوشت که دیگر یک نگاه در حاشیه حزب دموکرات به نظر نمی‌رسد.

سندرز نوشت: «واقعیت امر این است که اسرائیل به عنوان مرجع اصلی حاکمیت در سرزمین اسرائیل و فلسطین باقی مانده است و به جای آماده شدن برای صلح و عدالت، کنترل نابرابر و غیر دموکراتیک خود را محکم کرده است.»

**جان فلسطینیان مهم است**

او در ستون نیویورک تایمز در پایان سخنان خود خبر از ظهور «نسل جدیدی از فعالان» در ایالات متحده داد و نوشت: «ما این فعالان را تابستان گذشته در پی قتل جورج فلوید در خیابان‌های آمریکا دیدیم. ما آنها را در اسرائیل می‌بینیم. آنها را در سرزمین های فلسطین می‌بینیم.»

سخنان پایانی او خط مستقیمی از جنبش «جان سیاهان مهم است» را بر دارد و می گوید: «جان فلسطینیان مهم است.»

سندرز اشاره دارد به آنچه در طی درگیری های میان اسرائیل و فلسطینیان طی دو هفته گذشته آشکار شده است. آمریکایی‌ها در جریان فعالیت تابستان گذشته در شهرهای ایالات متحده صدای سیاسی خود را پیدا کردند و اکنون توجه و سخنان خود را در مورد آنچه که به نظر آنها ظلم بدون کنترل مشابه در خاورمیانه است معطوف می‌کنند.

کوری بوش، نماینده کنگره از سنت لوئیز که سال گذشته یک سیاستمدار قدیمی دموکرات را در انتخابات مقدماتی شکست داد روز پنجشنبه در صحن مجلس گفت «سنت لوئیز مرا برای نجات جان مردم فرستاد» و افزود «یعنی اینکه ما مخالف دادن پول خود برای تأمین بودجه پلیس نظامی، اشغالگری و سیستم‌های خشونت و حمله هستیم ما ضد جنگ هستیم، ضد اشغال هستیم و ضد آپارتاید هستیم. نقطه.»

این به درخواست‌های فزاینده برای قطع کمک نظامی ایالات متحده به اسرائیل تبدیل شده یا حداقل تهدید به انجام این کار برای تحت فشار قرار دادن نتانیاهو برای دور شدن از سیاست تهاجمی در سرزمین‌هایی که اشغالی است.

شعار «بودجه پلیس را قطع کنید» اکنون یک همراه سیاست خارجی دارد «بودجه اسرائیل را قطع کنید.».

مسئله ای که برای طرفداران سنتی اسرائیل در حزب دموکرات پیچیده است این است که سیاست آمریکا در قبال دولت یهود، مانند تقریباً همه موارد در سیاست ملی، به طور فزاینده‌ای جامعه را دو قطبی می‌کند.

بنیامین نتانیاهو، نخست وزیر پرسابقه اسرائیل طی سال‌های اخیر روابط نزدیکتری با راست آمریکایی ایجاد کرده است و در بخش کوچکی به آن کمک کرده است. دموکرات‌های دوران اوباما سخنرانی نتانیاهو در یک نشست مشترک کنگره در سال ۲۰۱۵ به دعوت جمهوریخواهان را فراموش نکرده‌اند. او کوشید دموکرات‌های کنگره را قانع کند از حمایت از توافق هسته‌ای با ایران دست بردارند اما ناکام ماند.

اما دونالد ترامپ طی چهار سال ریاست جمهوری خود روابط نزدیکی با نتانیاهو ایجاد کرد، از حق اسرائیل در دفاع از خود حمایت کرد، کمک مالی آمریکا به فلسطینی‌ها را قطع کرد، سفارت آمریکا را از تل آویو به بیت المقدس منتقل کرد و در برنامه دیپلماتیک خود در خاورمیانه فلسطینی‌ها را دور زد.

این یکی دو مشت سیاسی از جانب دونالد ترامپ و بنیامین نتانیاهو کافی بود که حتی برخی از دموکرات‌های میانه رو هم به خاطر مخالفت با او در مورد نظرات خود در مورد اوضاع فلسطین تجدید نظر کنند.

زاگبی می گوید این روند می‌تواند تا حدی ادامه یابد زیرا تلاش ترامپ برای تأمین منافع اسرائیل تا کنون به تغییر نظر رای‌دهندگان یهودی به حمایت از نامزدهای جمهوریخواه تبدیل نشده است.

زاگبی می‌گوید: «این آرزوی آنهاست زیرا یهودیان اساساً یک نهاد رای‌دهندگان آزادیخواه و مترقی هستند.»

اگر دموکرات ها بتوانند پایه های خیلی مترقی خود را بدون از بین بردن رای‌دهندگان سنتی یهودی خود محکم کنند، این یک حرکت سیاسی بسیار راحت‌تری خواهد بود.

**مکتب قدیمی بایدن**

اگر بحث اسرائیل در میان دموکرات‌ها در واشنگتن در حال تغییر باشد، جهت‌گیری کاخ سفید تازه شروع به انعکاس آن کرده است.

بایدن و مقامات ارشد او خواستار آتش‌بس بین اسرائیل و حماس بودند اما حتی از حامیان سنتی اسرائیل مانند چاک شومر رهبر اکثریت سنا عقب مانده بودند.

آنها بارها قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل را که آتش‌بس را تأیید می‌کرد وتو کردند. بازخوانی تماس‌های بایدن با نتانیاهو بارها خاطرنشان کرده است که رئیس جمهور بر حق اسرائیل در دفاع از خود تاکید کرده بدون اینکه از آن کمی انتقاد کند.

هیچ صحبتی درباره شرایط کمک‌های نظامی آمریکا به اسرائیل نشده و در حقیقت، قبل از بروز آخرین دور خشونت، بایدن فروش ۷۳۵ میلیون دلار اسلحه به دولت یهودی را مجاز دانسته بود که این باعث ناراحتی مترقی های حزب شده است. وی در جریان انتخابات مقدماتی ریاست جمهوری سال ۲۰۲۰ گفت تلاش برای مشروط کردن کمک‌های ایالات متحده به اسرائیل توسط سندرز و دیگران «عجیب» است.

با این وجود، خطر برای بایدن در این مورد روشن است. رئیس جمهور اگر بخواهد برنامه خود را در مجلس تصویب کند از جمله برنامه مترقی شبکه ایمنی اجتماعی، به حمایت ترقی خواهان چپ در ائتلاف خود نیاز دارد که ممکن است به تلافی سیاست خارجی، این برنامه مترقی داخلی را تصویب نکنند.

تاکنون این پشتیبانی وجود داشته اما اگر جناح چپ دموکرات معتقد باشد که بایدن به آنچه که آنها نقض فاحش حقوق بشر در اسرائیل می‌دانند پشت کند، می‌توانند او را کنار بگذارند.

زاگبی می‌گوید: «ما رشد مداوم پشتیبانی از فلسطینیان را دیده‌ایم اما در واقع این هرگز یک موضوع با تحرک بالا نبوده است.»

او می‌گوید «اما به تدریج دارد این طور می‌شود و به یک گوه‌ای تبدیل می‌شود البته به ویژه در میان دموکرات‌هایی که توسط رای دهندگان غیر سفید پوست و رأی دهندگان جوان‌تر و به طور کلی مترقیان انتخاب می‌شوند.»

اینکه این وضعیت ممکن است در بخشی از سیاست خارجی بایدن یعنی خاورمیانه اتفاق بیفتد، که تاکنون برایش اهمیت نداشته بسیار دردناک خواهد بود و البته این یکی از دلایل نگرانی طرفداران اسرائیل در حزب دموکرات است که حمایت بایدن، که طی دهه‌ها تصدی سمت‌های کم اهمیت دولتی او شکلی ثابت و مداوم داشته، حالا ممکن است متزلزل شود.

سیاستمداران فقط برای مدتی کوتاه می‌توانند از پایگاه سیاسی خود فاصله بگیرند.

# پاکستان اوس ولې په بلوچستان کې پوځي اډه جوړول غواړي؟

بي‌بي‌سي- پښتو

د پاکستان هوايي ځواک بلوچستان صوبه کې د نوې هوايي اډې پر جوړولو غور کوي. د نصير اباد ضلعې مرستيال کمېشنر بي‌بي‌سي ته ويلي، هوايي ځواک د ځمکې لپاره له ځايي چارواکو سره اړيکه نيولې او بيا د دې سيمې نوتال کې ځمکه کتل شوې ده.

دا خبره په داسې مهال ده چې فرانس خبري اژانس وايي، د پنټگان يا امريکا دفاع وزارت يو چارواکي ډېوډ هيلوی وايي، پاکستان دوی ته اجازه ورکړې چې افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د ملاتړ لپاره يې هوايي او ځمکنۍ لار وکاروي.

نوموړي مشرانو جرگې ته تېره اونۍ دا هم وويل، چې امريکا له پاکستان سره گډې هڅې کوي؛ ځکه افغانستان کې د ټيکاو لپاره د پاکستان رول ډېر مهم دی.

تر دې خبرونو وروسته خواله رسنيو کې وويل شول چې نصير اباد کې هوايي اډه د امريکايي پوځ په غوښتنه جوړېږي او امريکا به يې کاروي؛ خو د پاکستان هوايي ځواک او بهرنيو چارو وزارت دا خبر ردوي او وايي، دا ډول کوم وړانديز ورته نه دی شوی.

د هوايي ځواک وياند بي‌بي‌سي ته وويل، بلوچستان کې نوې هوايي اډه جوړول دوديزه خبره ده او لا يې هم په تړاو پرېکنده پرېکړه نه ده شوې.

د هغه په خبره، د دې اډې لپاره څلورو ځايونو باندې غور کېږي، خو لا هم وروستۍ پرېکړه نه ده شوې.

له بلې خوا د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت هم د دې خبر ردولو سره وايي، دغه هېواد کې نه کوم امريکايي پوځي شته او نه هم اډه، نه پر داسې اړوند وړانديز غور شته: «په دې تړاو ټولې گنگوسې بې بنسټه او بې مسووليته دي او ډډه ترې پکار ده.»

نوتال د بلوچستان نصير اباد له مرکز ډېره مراد جمالي ۲۵ کيلومتره لرې ډاگي سيمه ده چې ډېره برخه يې وچه هم ده.

د پاکستان هوايي ځواک وياند هم امريکا ته د اډې ور کولو خبرونه گنگوسې بولي او وايي، که د دې هوايي اډې جوړولو پرېکړه منظوره شي، شپه په شپه به جوړ نه شي، بلکې تر اتو- لسو کلونو وخت به ونيسي.

د نصير اباد مرستيال کمېشنر هم بي‌بي‌سي سره خبرو کې وايي، دا وړانديز د نوې اډې لپاره نه دی؛ بلکې د عملياتي ځای لپاره دی. «د پاکستان هوايي ځواک کومه مېنه جوړوي، کوم عملياتي ځای جوړوي يا هم کومه زېربنا جوړوي، خو دا کومه لويه هوايي اډه نه ده.»

د هغه په خبره، د پاکستان د هوايي ځواک له دې گام سره به په سيمه کې پرمختگ وشي. د روانې مياشتې لومړيو کې د پاکستان هوايي ځواک چارواکي دې ځای ته ورغلي وو.

پاکستان امريکايي پوځ ته اډه ور کوي؟

متقاعد تورنجنرال امجد شعيب بي‌بي‌سي ته وويل، د پاکستان پوځ اوس امريکا ته کومه هوايي اډه نه ور کوي.

د هغه په خبره، دا مهال نصير اباد کې داسې اسانتيا نشته او دا هوايي ډگر د سي پېک له پلوه هم اهميت لري: «که د سي پېک خلاف کوم سازش وي، نو له دې هوايي اډې سره به هر ډول منفي هڅې له منځه وړل کېږي.»

امجد شعيب وايي، دا هوايي اډه ډېره ډېره لويه نه ده، ځکه موخه يې سوېلي سيمه کې امن ټينگول دي.

هغه دا هم وايي، که اړتيا وي، نو امريکا به د چمن سړک ته لاسرسی ولري او تر دې مخکې يې هم دا سړک کارولی دی.

نوموړی دا هم وايي، که امريکايي پوځ ته اکمالات کېږي، نو د کراچۍ هوايي ډگر سره کېدلی شي، خو له افغانستان د امريکايي پوځ وتلو سره دا اړتيا هم ډېره کمېږي.

امجد شعيب وايي، د ترهگرۍ ضد هڅو کې د نصير اباد هوايي اډې کارول هم ډېر وخت نيسي: «اوس هم له کوټې ځواب وايو، د جيکب اباد هوايي اډه هم ډېره نږدې نه ده. که څه هم جيکب اباد يو څه لرې دی، خو د هند سرحد ته په پام يو ځانگړې اهميت لري.»

د انگريزي ورځپاڼې «ايکسپرېس ټرېبيون» د دفاعي چارو خبريال کامران يوسف بي‌بي‌سي ته وويل، امريکا اوس هم سيمه کې په يو نه يو ډل پاتېدل غواړي او دا د پاکستان د پوځي چارواکو هيله هم ده.

کامران يوسف وايي، پوځي مشرتابه پوهېږي چې که سيمه کې امريکا وي، نو پاکستان به هم يوه برتري په دې ولري چې واشنگټن بيا پاکستان ته اړتيا لري.

هغه زياتوي چې په تاريخي ډول هم پاکستان له امريکا سره دا ډول مرسته کړې ده، خو د عوامو له مخالفت د ځان بچولو لپاره د داسې تړونونو په هکله سملاسي څه نه ويل کېږي.

د نوموړي په باور، دا امکان شته چې د دواړو هېوادونو تر منځ داسې تړون وشي چې له مخې يې دا ډول مرسته جاري وساتل شي.

د هغه په خبره، د سپټمبر د ۱۱مې له بريدونو وروسته پروېز مشرف د مرکزي قومندانانو غونډه کې د بې پرې يا شنډ حالت خبره کړې وه، خو وروسته مالومه شوه چې شمسي هوايي اډه تر دې مخکې امريکا ته سپارل شوې وه.

د پروېز مشرف وخت يو مرکزي قومندان شاهد عزيز خپل کتاب «تر کله دا خاموشي» کې ليکي: «ښاغلي مشرف د پوځ لوی درستيز په توگه د مرکزي قومندانانو ناسته کې وويل، پاکستان له امريکا سره مسئلو کې شنډ حالت لري، خو وروسته مالومه شوه چې شمسي هوايي اډه لا د مخه امريکا ته سپارل شوې وه.»

کامران يوسف وايي، ايوب خان د شوروي اتحاد خلاف امريکا ته د پېښور هوايي اډې وړانديز کړی و، خو اوس حالت بدل دی او تر داسې مرستې مخکې چين هم له پام نه شي غورځېدی او اسلام اباد به په دې برخه کې د چين باور هم ضرور خپلوي.

جيکب اباد ته نږدې بله اډه

جيکب اباد له بلوچستان سره د سيند نښتې سرحدي ولسوالۍ ده او د بلوچستان د نصير اباد سره تړلې جعفر اباد سوېل- ختيځ کې سرحدي سيمې جيکب اباد سره نښتې دي.

جيکب اباد کې شهباز هوايي اډه د پاکستان هوايي ځواک يوه ستره اډه ده. نوتال د سيند له جيکب اباد ۷۰ کيلومتره واټن لري.

پر افغانستان د امريکا له يرغل وروسته د امريکا هوايي ځواک جيکب اباد افغانستان کې د القاعده او طالبانو پر ضد پوځي عملياتو لپاره کاراوه.

د جيکب اباد په څېر افغانستان د نوتال شمال ته پروت دی. د جيکب اباد او نوتال سوېلي يا سوېل- لوېديځو سيمو سره د افغانستان نښتې يا ور څېرمه سيمې له بلوا ډېرې اغېزمنې دي.

څنگه چې جيکب اباد هوايي اډې ته نوتال نږدې دی دا ډول نوتال ته نږدې سبۍ ولسوالۍ کې هم هوايي اډه شته.

د انگرېزانو وخت دا اډه که څه هم ډېره لويه او نوې نه ده، خو پر سي ۱۳۰ الوتکو سربېره وړې الوتکې يې هم کاروي.

امريکا بلوچستان کې کومه اډه کارولې؟

د افغانستان له پولې سره د بلوچستان شپږ ولسوالۍ يا ضلعې نښتې چې پکې ژوب، قلعه سيف الله، پشين، قلعه عبدالله، نوشکۍ او چاغي راځي.

دا ولسوالۍ د انگرېزانو وخت کې د برېټانوي بلوچستان برخه وې او انگرېزانو د نازي جرمني او پخواني شوروي د ممکنه پرمختگ د مخنيوي لپاره پکې ډېرې وړې وړې هوايي اډې جوړې کړې وې.

خو د پاکستان تر جوړېدو وروسته ژوب او د چاغي په دالبندين کې هوايي اډه جوړه شوه.

داسې ښکاره رپوټونه نشته چې دې سيمو کې هوايي اډه افغانستان کې د امريکا د بريدونو لپاره کارېدلې وي، خو د چاغي سره نښتې خاران ولسوالۍ کې شمسي هوايي اډه په ښکاره د دې عملياتو لپاره کارېدلې ده.

خو پر سلاله پوسته د امريکا تر بريد وروسته امريکايي پوځ ترې ووت.

نوتال کې د هوايي اډې د نوي پلان خبرونه د بلوچستان ځايي رسنيو کې ډېر مشهور شوي نه دي، چې له امله يې د سياسي گوندونو غبرگون هم تر اوسه نشته، خو د بلوچستان کې ملتپال گوند بلوچستان نېشنل موومنټ د دې پلان مخالفت کړی دی.

د دې گوند مشر خليل بلوچ دا پلان بلوچستان کې ستر پوځي پلان بللی او وايي، دولت او پوځي ادارې دې سره پر بلوچستان اوږدمهالې ولکه او پر يوه پوځي اډه د بلوچ وطن بدلولو پاليسي باندې په چټکۍ کار کوي.

# د ډيپلوماتيکو پلونو د نړېدلو گواښ؛

## استراليا په کابل کې په موقتي توگه د خپل سفارت د تړلو پرېکړه کړې ده



د بهرنيو ځواکونو د وتلو له پرېکړې سره هممهاله له افغانستانه ځينو ډيپلوماتيکو ادارو هم د وتلو نيت کړی دی. تازه استراليا ويلي چې په افغانستان کې به خپل سفارت د لنډې مودې لپاره تړي او لامل يې هم امنيتي مسايل ياد کړي دي. بلخوا افغان حکومت بيا ويلي، چې دوی د ډيپلوماتيکو دفترونو او کارکوونکو د امنيت تامين ته ژمن دي او په دې برخه کې د ملگرو هېوادونو اندېښنې بېځايه دي. وسله والو طالبانو هم ډاډ ورکړی چې بهرنيو ډيپلوماتانو او مرستندويه موسسو ته به گواښ نه جوړوي.

وروسته له هغه چې له افغانستان د بهرنيو ځواکونو د وتلو پروسه پيل شوه، ورسره جوخت ځينو بهرنيو موسسو او سفارتونو ته هم اندېښنې پيدا شوې. د دوحې د هوکړې پر بنسټ امريکايي او د ناټو نور ځواکونه بايد له افغانستان ووځي چې په دې ډله کې استراليا هم د خپلو سرتېرو د ايستلو لړۍ پيل کړې ده. لا هم استراليايي عسکر په بشپړه توگه له افغانستانه نه دي وتلي، خو استراليا وايي چې د سرتېرو تر ايستلو مخکې خپل سفارت په افغانستان کې تړي او تر هغه وروسته به يې ټول سرتېري له افغانستان وباسي.

په کابل کې د استراليا سفارت، د دغه هېواد لومړي وزير او د ياد هېواد د بهرنيو چارو وزارت په تازه څرگندونو کې ويلي چې په افغانستان کې يې د خپلو ډيپلوماتانو او ماموريت د امنيت د تامين وړتيا او امکانات نه لري، نو له همدې امله يې پرېکړه کړې چې په موقته توگه يې خپل سفارت په کابل کې وتړي. د سرچينې په خبره، دغه پرېکړه يې موقتي ده او همدا چې وضعيت سم شي، بېرته به يې ډيپلوماتان افغانستان ته راستنېږي او خپل ماموريت ته به ادامه ورکوي.

د استراليا سفارت ټينگار کړی چې په کابل کې يې د سفارت د تړلو پرېکړه له دغه هېواد سره د ډيپلوماتيکو اړيکو د پرېکولو په مانا نه ده، بلکې دوی هڅه کوي له افغانستان سره خپلې اړيکې وپالي او په سيمه کې يې شته ډيپلوماتان به د افغانستان چارې تنظيموي.

د سرچينې په خبره: «زموږ ماموريت دوام کوي، د افغانستان اړوند ډيپلوماتان به دلته له کوم بل نږدې هېواد خپلې چارې تنظيموي او وخت ناوخت به افغانستان ته سفرونه کوي».

بلخوا افغان حکومت بيا د استراليا پر دې پرېکړه غبرگون ښودلی او وايي چې دوی د استراليايي حکومت له دې پرېکړې خبر وو، خو تمه لري چې د سفارت تړل کېدل موقتي وي. د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت له لوري په خپره شوې اعلاميه کې راغلي افغان حکومت د بهرنيو ډيپلوماتو او ډيپلوماتيکو دفترونو د امنيت تامين ته ژمن دی او د دغو دفترونو د امنيت لپاره يې ټول امکانات کارولي دي، نو له همدې امله دوی ته ډاډ ورکوي چې هېڅ ډول گواښ يې فعاليتونو ته متوجه نه دی. د سرچينې په خبره: «موږ ټولو سفارتونو او ديپلوماتيکو مامورينو ته د امنيت ډاډ ورکوو، دوی ته هېڅ راز گواښ نه دی متوجه او د امنيت لپاره يې بشپړ تدابير لرو».

وسله والو طالبانو بيا ويلي چې دوی په افغانستان کې بهرنيو ډيپلوماتانو او مرستندويه موسسو ته امنيت ډاډ ورکوي او فعاليتونو ته يې هېڅ راز خطر نه متوجه کېږي. د طالبانو د قطر دفتر وياند ډاکتر نعيم بهرنيو رسنيو ته ويلي چې دوی په افغانستان کې د مرستندويه موسسو فعاليت ته چې په بشري برخه کې کار کوي زمينه برابروي او ډاډ ورکوي چې هېڅ راز گواښ يې فعاليتونو ته نه متوجه کېږي.

بلخوا په ټولنيزو رسنيو کې د عامو افغانانو ترمنځ بيا د ډيپلوماتيکو دفترونو تړل کېدو اندېښنې پارولې دي. په ټولنيزو رسنيو کې د افغانستان د سياسي وضعيت څارونکو او د نظر خاوندانو ويلي چې ډيپلوماتيک ماموريت درېدل او يا د دفترونو بندېدل د جگړې د ښکېلو لورو لپاره د خطر زنگ دی او له دې ښکاري چې دوی د سولې پر ځای پر جگړه تمرکز کړی دی. کاروونکي پر دواړو لورو غږ کوي چې ژر تر ژره د سولې لار خپله کړي او په دې توگه له نړۍ سره جوړ شوي پلونه دې اباد پرېږدي.

# <u>بلېنکن:</u> د اسراييل او فلسطين ترمنځ د راتلونکو نښتو د مخنيوي په پار په نويو پلانونو کار کوو

د امريکا د متحدو ايالتونو د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن د اسراييل له لومړي وزير بېنيامن نتنياهو سره وليدل او په غزه کې د روان اوربند د ساتلو په اړه يې ورسره خبرې وکړې.

بلېنکن په خپلو خبرو کې وويل چې دا د اسراييل حق دی چې له ځان څخه د فاع وکړي. د امريکا د بهرنيو چارو د وزير په توگه دا منځني ختيځ ته د بلېنکن لومړی سفر دی. هغه د اسرييل له لومړي وزير سره په يوه گډ خبري کنفرانس کې وويل: «دواړو اسراييل او فلسطين په جگړې کې ژور تلفات وليدل. د هيلې د بيا ژوندي کولو، درناوي او باور لپاره ډېر کار ته ضرورت دی. د تلفاتو شمېرې ډېرې يا کمې وي، خو هره شمېره يو انسان دی- يوه لور، يو زوی، پلار، مور، نيکه، انا او يوه ښه دوست دی.»

بلېنکن زياته کړه چې امريکا به د غزې د بيارغونې لپاره نړيوالې مرستې راټولې کړي او د لگولو لپاره به يې داسې لارې چارې ولټوي چې د حماس ډله ترې گټه وانخلي. نوموړي دغه راز ټينگار وکړ چې دوی هڅه پر داسې لارو چارو کار وکړي چې په راتلونکي کې د دغه ډول پېښو د مخنيوي لامل شي. هغه په غزې او لوېديځه غاړه کې د اقتصادي فرصتونو د پيدا کولو خبره هم وکړه چې دواړو فلسطينيانو او اسراييل ته به يې گټه ورسيږي.


بلېنکن دغه راز په رام الله کې د فلسطين له ولسمشر محمود عباس او نورو چارواکو سره د ليدلو پر مهال له فلسطين سره د مرستو اعلان هم وکړ. په ورته مهال د اسراييل لومړي وزير په خپلو خبرو کې د امريکا د متحدو ايالتونو د مرستو د منښې ترڅنگ حماس ته خبرداری ورکړ، چې اوربند وساتي. هغه وويل: «که حماس دا خاموشي (اوربند) مات کړي او پر اسراييل يې بريد وکړ، زموږ ځواب به ډېر سخت وي.» ټاکل شوې چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير به مصر او عمان ته هم سفرونه وکړي او هلته به هم له چارواکو سره د منځني ختيځ په روانو حالاتو وغږېږي. د يادونې ده چې حماس او اسراييل له يوولس ورځنۍ جگړې وروسته اوربند وکړ. په دغې جگړې کې د چارواکو په خبره، د ماشومانو په گډون په غزه کې ۲۳۲ تنه ووژل شول او څه باندې ۱۵۰۰ نور ژوبل شول. دغه راز د حماس په راکټي بريدونو کې بيا په اسراييل کې ۱۲ تنه وژل شوي چې يو يې ماشوم دی او گڼ نور ټپيان شوي دي.

## د کتاب خبري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر




په وروستیو څپرکو کې د هند او پاکستان ترمنځ د کنگلونو د ماتېدو پر بېلابېلو لارو چارو خبرې اترې شوې دي. دواړه پخواني رئیسان په دې تړاو مختلف لیدلوري لري. دولت د باور فضا رامنځته کېدو لپاره د اقداماتو پلوی دی، په داسې حال کې چې دوراني بیا د یوه اوږدمهاله پرمختگ لپاره دوامداره جوړښتونه غواړي. په خورا حساسو نظریاتو بحث کېږي، دا داسې مسایل دي، چې په دواړو هېوادونو کې به مخالفین غافلگیره کړي. په نتیجه گیرۍ کې د گډ پوهاوي یو داسې ټکی موجود دی، چې انکار ترې نشي کېدای او هغه دا چې د هند ـ پاکستان ترمنځ لېونتوب باید پای ته ورسېږي.

د صحنې جوړونه

د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر ۳۰مه؛ بنکاک: زموږ وروستۍ ناسته کې د موضوعاتو په اړه مثبت بحثونه کېږي (او آن یو انگېزه لرونکی او ځیرک روسی هم گورو)، په خوښۍ کې به یې غرمنۍ وکړو او وروسته به څه تایلنډي ایسکریم وخورو.

۳۰

**د جوړښتونو رامنځته کول که د کنگل ماتول؟**

(نوټ: له دواړو رئیسانو وغوښتل شول، چې د پرمختگ لپاره خپلې لارنقشې وړاندې کړي. لومړی دا ټکي مطرح شول، چې وروسته به بحث پرې وشي.)

دولت:

- د خلکو ترمنځ اړیکې اسانه او وهڅول شي.
- د ویزې چارې ساده شي، هوايي ډگرونو او دغه راز واگه بندر ته په رسېدو سره د ویزې پر صادرېدو باید غور وشي.
- له ډیلي / ممبیي څخه دې لاهور، اسلاماباد او کراچۍ ته الوتنې زیاتې شي.
- کلتوري، هنري، ادبي او سپورټي لیدنې دې ډېرې شي.
- که اړتیا وي د هند او پاکستان ترمنځ د کرکټ لړۍ په یوه درېیم هېواد کې له سره پیلېدای شي. د هند په غوره لیگ سیالیو کې پاکستاني لوبغاړي شاملېدای شي. پخواني لوبغاړي او مبصرین، چې له هند سره یو ځای وخت تېرولی شي، نو ولې ځوانانو ته زمینه مساعده نشي؟
- د دواړو هېوادونو د پنجاب (پاکستانی پنجاب او هندی پنجاب) ترمنځ اړیکې او سوداگري.
- د باور رامنځته کېدو لپاره اقدامات ـ د MFN «تر ټولو زیات د علاقې وړ هېواد» هوکړه ولې وځنډېده، په داسې حال کې، چې دا تړون لاسلیک شوی و.(د سوداگرۍ نړیوال سازمان غړي، چې د نړۍ ټول پرمختللي او مخ پر ودې هېوادونه په کې شامل دي، ژمن دي چې د یو بل پر وړاندې د «تر ټولو زیات د لېوالتیا وړ» اصل رعایت کړي. ژباړن)
- د پولو په پرانیستو او د بندیزونو په نرمولو سره د اړیکو ډېرېدل.
- د سوداگرۍ، گډ پولي واحد او بانکوالۍ په برخو کې د باور رامنځته کولو پر مهال کشمیر ته لومړیتوب ورکول.
- لومړی باید کشمیر ته رسېدنه وشي، ترهگري، سیاچین، سرکریک او نور مسایل پخپله پسې مخ ته راځي.
- راځئ د هند ـ پاکستان او هند ـ کشمیر پر دواړو مسایلو هممهاله او یوه ته د ترجیح له ورکولو پرته بحث وکړو.
- د بهرنیو چارو وزیرانو، د مدني فعالانو، د استخباراتي ادارو د مشرانو، او د پوځ د لویو درستیزانو په کچه دې ناستې ترسره شي. داسې هېڅ مذاکرات نشته، نو ولې اجیت دوال ونه بلل شي؟
- استخباراتي همکاري د باور رامنځ ته کېدو سره مرسته کولی شي ـ په دواړو هېوادونو کې دې د دغو ادارو مشرې پرانیستې پوستونه وي.
- سیمه ییزه همکاري باید اسانه شي ـ سارک سازمان باید د گجرال دکتورین په راژوندي کولو غور وکړي.
- موږ ان د نړیوالو سازمانونو په اډانه کې پر همکاریو غور کولی شو. په اسلامي سازمانونو کې باید زموږ د هېواد مسلمان قشر ته اهمیت ورکړل شي.
- په دواړو خواوو کې باید رسنۍ آزادې پاتې شي. پاکستان کې د هند فلمونو ته او د هند په سینمایي صنعت کې پاکستاني لوبغاړو ته اجازه ورکړل شي.

**دورانی**

- د اړیکو پټو کانالونو ته باید رسمیت ورکړل شي. دا کانالونه باید له عامه ځار څخه پټ وساتل شي.
- د هر هېواد د لومړي وزیر د باور وړ شخص پر ځای باید د سترو سیاسي گوندونو، بهرنیو چارو وزارت او پوځ له لوري د یوه غوره شوي کس په مشرۍ ټیم په اړیکه کې وي. دغه کس باید داسې ټیم وټاکي، چې په بهرنیو اړیکو، امنیت او سیمه ییزو چارو کې تجربه ولري.

**دوام لري...**

# تلاش افغان ها برای صلح

اکسوس کتابپلورنځی




د افغانستان د کړکېچ تاریخ لسیزو ته ورسېد، دغو اوږدو شخړو او جگړو د دې هیواد خلک له ډېرو بدمرغیو سره مخ کړل. د مړگونو، مهاجرتونو، ورانیو او ستونزو فهرست اوږد دی. په دغو لسیزو کې سره له دې چې د جنگ لوبغاړي وخت په وخت بدل شوي دي، خو عوامل او د جگړې لپاره د حل لارې یې سره په یوه مجموعه کې د مطالعې وړ دي.

د دې په څنگ کې چې د افغانستان د دې اوږدې جگړې لمبې د دې هیواد مادي او معنوي شتمنۍ له منځه وړې او هره ورځ ولس ته د وینو په بیه تمامېږي، خو په همدغو کلونو کې د دې جگړې عوامل څېړل او د سولې د راتگ موضوع د هیواد په داخل او بهر کې د بحث توده موضوع هم ده، په دې اړه بحثونه او تحلیلونه بنایي متفاوت هم وي؛ خو هر یو بحث د دې کړکېچ په اړه یوه رڼا اچوي.

د هیواد د نورو اړخونو اقتصاد، اوبو، کرنې او نورو په اړه ډېر څه لیکل شوي دي؛ خو لا هم د دې جنگ ځپلي ملت تر ټولو لویه هیله یانې سوله لا هم ورکه ده. د همدغه تر ټولو لویې هیلې په اړه له نن ۴۴ کاله مخکې ډاکتر نجیب الله او پوهاند کاکړ هم ډېر لیکونه لیکلي او یو او بل ته یې استولي وو. دا لیکونه نن هم موږ ته دومره مهم دي لکه هغه وخت چې مهم وو.

د دې لیکونو یو مهم ارزښت دا دی، چې موږ ته د نن او سبا لپاره د تاریخي درس په توگه پاتې کېږي. د سولې بېلابېلې طرحې حتی د ملگرو ملتونو له جدي ملاتړ سره سره ولې ناکامې شوې؟ وطن څنگه د نوېو جگړو پر ډگر بدل شو؟ څنگه په یوویشتمه پېړۍ کې لا هم د افغان وینه توېیدنه بنده نه شوه، په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې د بشر حقونو ته تر هرڅه لومړیتوب ورکول کېږي؟ که دغه لیکونه په دقت ولوستل شي، دغو پوښتنو ته که بشپړ ځواب نه وي، ځینې ځوابونه ورکولای شي. د دغه کتاب د بیاکتونکي زرین انځور په خبره، ځکه یې په دغه وخت کې خپرېدل اړین وو. د کتاب تر ټولو ښه اړخ دا دی، چې د ځینو لیکونو په اړه یې له مهمو سیاستوالو سره خبرې شوي دي او یا هم ورته لېږل شوي او هغوی پرې تفصیلي خبرې کړې دي. د دغو تفصیلونو په رڼا کې د افغان سولې مسئله لا هم ښه روښانه کېدای شي.

د زرین انځور په خبره، د دغو ټولو او مختلفو نظرونو مطالعه موږ د افغانستان د اوږد کړکېچ په پېچلو اړخونو خبروي او په دقت سره مو داسې یوې پایلې ته رسولی شي، چې د سولې پر لور له حرکت کولو سره موږ باید له څومره لوړو ژورو تېر شو او بالاخره خپلې موخې ته ورسېږو.

په دغه کتاب کې ټول راغلي لیکونه هغه لیکونه دي، چې پرون هم سیاسي وو او نن هم د هیواد د سیاسي- نظامي وضعیت لپاره یو ښه درس دی او د سبا نسل ته به د تاریخ د ارزښتناکو پاڼو په توگه مهم پیغامونه ولري.

مینه‌وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلامي خلافت د مشرانو لنډه پېژندنه | رباني ساجد | ۸۰؋ |
| ۲ | د مالي خطرونو مدیریت | محمدبشیر دودیال | ۱۲۰؋ |
| ۳ | روش های تحقیق در روان شناسی و علم تربیتی | خلیل الرحمن سروری | ۳۳۰؋ |
| ٤ | اقتصاد خرد | فردین احمد صدیقی | ۱۵۰؋ |
| ٥ | عمومي اروپوهنه | گل رحمان حکیم | ۱۸۰؋ |
| ٦ | جغرافیای سیاسی افغانستان | محمدعظیم عظیمی | ٤۰۰؋ |
| ۷ | د ادب د تیورۍ اساسونه | دوست شینواری | ۲۰۰؋ |
| ۸ | د ژباړې تیوري | گل رحمان رحماني | ۱۵۰؋ |
| ۹ | ادب تیوري | لعل پاچا ازمون | ۳۵۰؋ |
| ۱۰ | اصول و مبادی جراحی | چراغ علی چراغ | ٤۰۰؋ |
| ۱۱ | پتالوژی جهازات | امین همکار | ۲۸۰؋ |
| ۱۲ | فزیولوژی طبی | محمدناصر فروتن | ۳۵۰؋ |
| ۱۳ | نړیوال اقتصاد | حمدالله نظامي | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | لیکوالي | محمد آقا شېرزاد | ۲۳۰؋ |
| ۱٥ | قران او علم النفس | محمد عثمان نجاتي | ۳۰۰؋ |
| ۱٦ | اساسات اناتومی | دیپارتمنت اناتومی پوهنتون کابل | ۳۸۰؋ |
| ۱۷ | د جغرافیوي نښو حقوق | سیدحسن میرحسیني/محمدقسیم وصال | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | د وجایبو حقوق | حفیظ الله دانش/بصیراحمد کوچی | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | اقلیم پوهنه | عزت الله سائل | ۱۸۰؋ |
| ۲۰ | د حقوقي پوښتنو بانک | خان اغا پاینده بهسودوال، مصلح الدین حامد | ۳۸۰؋ |
| ۲۱ | نړیوال سازمانونه | نبي بصرت | ۲۳۰؋ |
| ۲۲ | اساسات امور مالی عامه | عبدالقیوم عارف | ۱۷۰؋ |
| ۲۳ | فارمکولوژی سریری و تداوی دوایی | احمد فرید دانش | ۳۲۰؋ |
| ۲٤ | اساسات اقتصاد جزء ( اقتصاد خرد) | حمیدالله نور عباد | ۲۰۰؋ |
| ۲٥ | جزا شناسی | حفیظ الله دانش | ۲۳۰؋ |
| ۲٦ | سازماني پرمختیا | منصور فقیرزی | ۲۲۰؋ |
| ۲۷ | کریمنالستیک | محمدشفیع صالحی | ۱٦۰؋ |
| ۲۸ | کلیات حقوق اداری | عبدالوحید نیاز | ۲۲۰؋ |
| ۲۹ | د رحمان بابا کلیات | دوست محمدخان کامل مومند، قلندر مومند | ۲۲۰؋ |
| ۳۰ | تلاش افغان ها برای صلح | زرین انځور و خلیل الله افضلی | ۳٥۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ      اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٨,٤ |
| € | ٩٥ |
| Rp. | ٤٩٨ |
| ₹ | ١٠٨٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠٩,٣ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# څنګه باشخصیته واوسو؟ موږ يې څو لارې درښيو

ژباړه: رفيع الله رفيع

تاسو هم غواړئ داسې شخصیت ولرئ، څو هغه کسان چې تاسو مینه ورسره لرئ، ځان ته رامات کړئ. په همدې موخه لازمه ده، چې له هغو نقطو سره اشنا شئ، چې ستاسو شخصیت جوړولی شي.

**لومړی؛ تل هوښیار اوسئ**

هڅه وکړئ چې د نړۍ خوندونه درک کړئ او تل له هغو کسانو سره وخاندئ، چې هوښیار او خوشحاله وي او ستاسو د خندولو هڅه کوي، چې دا کار د ښه شخصیت یوه برخه ده.

**دویم؛ هڅه وکړئ چې په سختو شرایطو کې ارامه پاتې شئ**

ډېر داسې کسان شته چې فکر کېږي د ښه شخصیت لرونکي دي، مګر کله چې دوی په یو ستونزمن حالت کې وي، دوی خورا بل ډول ښکاري او خپل ښه خصوصیات له لاسه ورکوي. تاسو داسې مه اوسئ، که څه هم په سختو شرایطو کې حضور لرئ، خو هڅه وکړئ چې ارامه پاتې شئ او فکر وکړئ، چې په داسې حالاتو کې ستاسو د لاسه څه کېږي.

د بېلګې په توګه، کله مو چې موټر په لاره کې خراب شو او د کار دفتر ته مو ناوخته شوه، په داسې حالاتو کې په چیغو او شور ماشور پیل مه کوئ، ځکه چې په دې کار سره نه شی کولای، چې مشکل حل کړئ. په داسې حالاتو کې مو فکر سم کړئ او ارام پاتې شئ او په هغو لارو چارو کار وکړئ، چې څنګه کولای شی چې رامنځته شوی مشکل حل کړئ.

**درېیم؛ ذهن مو خلاص وساتئ**

د ښه شخصیت لرلو یوه برخه د خپل فکر له تغییر سره موافق اوسېدل دي، نورو ته غوږ ونیسئ او همېشه د خپل فکر او ذهنیت تغییر ته اماده و اوسئ. یوازې په دې دلیل، چې نور له تاسو سره په توپیر عمل کوي، پر وړاندې یې خندونه مه جوړوئ، خلاص ذهن له تاسو سره مرسته کوي، چې ډېر نوي ملګري پیدا کړئ او ښکلی ژوند ولرئ، ضرور نه ده، چې د نړۍ ټول خلک له تاسو سره همغږي وي.

**څلورم؛ عاجز اوسئ**

تاسو کولای شی چې د نړۍ ډېر هوښیار او ځانګړی شخص و اوسئ؛ خو که عاجزي ونه لرئ، ممکن ښه شخصیت ونه لرئ، تل عدالت مراعات کړئ، هېڅوک ځان خوښوونکی شخص نه خوښوي.

داسې ډېر کسان شته، چې ښه شخصیت نه لري، ځکه چې دوی یو بل ته ښښنه نه کوي، زړه یې له نفرت څخه ډک وي او تل په غوسه وي. تاسو هڅه وکړئ چې له ټولو خلکو سره مینه وکړئ، څو په ټولنه کې باشخصیته پاتې شئ.

**پنځم؛ پوښتنه وکړئ**

ثابت پاتې کېدل نورو ته د اهمیت ورکولو مهمه برخه ده او دا کار تاسو په غوره شخص بدلوي، کوشش وکړئ چې پوه شئ چې نور له کومو شیانو سره مینه لري او کوم شیان ورته ارزښت لري، چې په دې کار سره تاسو خپله ډېر شیان زده کوی او هغوی ته د ارزښت احساس ورکوی.

**شپږم؛ رښتیني اوسئ**

له هغو کسانو سره چې تاسو ته نږدې دي، خیانت مه کوئ، رښتیني اوسئ او کوم کسان چې تاسو خوښوي او ستاسو ډېره ډېره ستاینه کوي، کوشش وکړئ چې په سختیو کې له هغو کسانو سره پاتې شئ، چې مینه درسره لري، ستاسو په ژوند کې با وفاداره خلک په سختو شرایطو کې ستاسو په خوا کې په راحتۍ سره تېرېږي.

**اووم؛ د ملاتړ او لارښوونې وړاندیز وکړئ**

د بېلګې په توګه، داسې فکر مه کوئ چې هغوی په هر څه پوهېږي، د ضرورت په وخت کې همېشه نورو ته د مرستې وړاندیز وکړئ، دا کار په اسانۍ سره کولای شي چې ستاسو له ملګري سره په نوي کور کې د سامان الاتو ځای پر ځای کولو په برخه کې مرسته وکړي یا تر دې لا ډېر کېدای شي د ژوند رهنما یې و اوسی.

هر څه مو چې له لاسه کېږي، تر سره یې کړئ؛ مګر هغوی یوې ځانګړې لارې ته مه رهنمایي کوئ او د خلکو فکرونو او تصمیمونو ته احترام وکړئ.

**اتم؛ د ځان او نورو په اړه مثبت اوسئ**

ستاسو فکرونه ژر ژر په الفاظو بدلېږي او دا لفاظ ستاسو چلند ته تغییر ورکوي، ښه فکر مو په ځان باوري کوي او پر ځان باور د ښه شخصیت مهم عنصر دی. کله چې مو له خپل فکر څخه خبر وی، په اسانۍ سره کولای شی چې خپل مسیر ته تغییر ورکړی.

**نهم؛ ته په خپله**

په ژوند کې مو هره ورځ داسې چانسونه په لاس راځي، چې خپل شخصیت نورو ته وښیو، هڅه مه کوئ چې د هر چا په شان و اوسئ، ښه شخصیت په دې مانا نه دی، چې له نورو سره ورته والی ولری.

د بېلګې په ډول، که له یو کس یا یوې ډلې سره د خبرو په جریان کې یاست، کوشش مه کوئ چې پرته له ښه او بده هر څه چې، هغه یې وایي تاسو ورسره موافق شئ، بلکې خپل نظرونه له دوی سره په درناوي شریک کړئ او په خبرو کې فعال اوسئ. تل خپله اوسئ، خلک هڅه کوي چې د نورو پام ځان ته د خپلې رښتینولۍ په موخه راواړوي، په دې پوهېدل دومره ستونزمن کار نه دی، چې تاسو پوه شی چې یو شخص څومره صادق دی.

**لسم؛ د خپل شخصیت مثبتو اړخونو باندې تمرکز وکړئ**

ستاسو د شخصیت هغه برخې له لاسه ورکول خورا اسانه دي چې پرمختګ ته اړتیا لري، هڅه وکړئ چې له دې کار څخه ځان وساتئ، د خپل شخصیت هغو برخو ته پاملرنه وکړئ، چې تاسو فکر کوی نور یې خوښوي او هڅه وکړئ چې هغه برخې نورې هم پیاوړې کړئ.

**یوولسم؛ د خپل شخصیت هغو برخو اصلاح ته ژمن شئ، چې نه یې خوښوی**

تاسو ممکن احساس وکړئ چې تاسو د خپل ځان ډېره ستاینه کوی یا دا چې تاسو به خپل مزاج ډېر ژر له لاسه ورکړی، ډېره مهمه ده، چې خپل کمزوري نقاط وپېژنئ، مګر تاسو باید د هغوی د شتون په خاطر له ځانه نفرت ونه کړئ. هڅه وکړئ چې خپل د پرمختګ لارو چارو ته پاملرنه وکړئ، هر وخت که تاسو د غوسې په حالت کې وی، ځان مو کنټرول کړئ، کوشش وکړئ چې په بل ډول غبرګون وښیئ.

**دوولسم؛ معلوم کړئ چې کوم کوم شیان ستاسو لپاره مهم دي**

په یاد ولرئ، د هغه څه په اړه پوهېدل چې ستاسو لپاره مهم دي، د خپل ځان له پېژندلو څخه هم خورا سخت دي، هڅه مه کوئ چې هغه څه انتخاب کړی، کوم چې نور یې ستاسو لپاره مهم ګڼي؛ بلکې هڅه وکړئ هغه څه انتخاب کړئ، چې زړه مو غواړي.

**دیارلسم؛ خپل ذوقونه وپالئ**

ساتیري کول د شخصیت مهمه برخه ده، تاسو غواړی چې ښه شخصیت ولری، نه دا چې سخت و اوسی. هڅه وکړئ هغه کارونه تر سره کړئ له کومو نه چې خوند اخلی. تاسو اړتیا نه لری چې د هغو په تر سره کولو کې خورا ماهر واوسی، یوازې جذبه کافي ده.

**څوارلسم؛ نظر ورکړئ**

د نظر څرګندول د ښه شخصیت له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي، تاسو باید تل خپل سر د اتوماتیک ماشین په څېر ونه ښوروئ، په طبعي ډول هر څوک د نظر څرګندولو حق لري، مګر ځینې وختونه خلک د شخړې د مخنیوي لپاره خپل نظرونه پټوي، له خپلو نظرونو مه وېرېږئ؛ بلکې هڅه وکړئ چې په شعوري ډول خپل نظر ورکړی او د ضرورت په وخت کې که اړین وي، خپل نظر ته تغییر ورکړئ او له نورو څخه د نظر په پوښتلو کې او د خپل نظر په شریکولو کې وېره مه لرئ.

**پنځلسم؛ خپل وخت هغو شیانو ته ځانګړی کړئ، چې ارزښت درته لري**

د ګیتار غږول، د خبرونو لوستل، حتی د پیلوټۍ زده کړه او نور هغه څه چې ستاسو لپاره مهم دي، یوازې د وخت مصرف ته اړتیا لري. په هغو شیانو چې تاسو یې خوښوی، ډېر وخت تیر کړئ، په هغه کې مو پوهه زیاتېږي، دا کار د دې په خاطر مه تر سره کوئ، چې نور یې خوښ کړي، بلکې یوازې د ځان لپاره یې تر سره کړئ.

## سولې وزارت: ډېر ژر به له طالبانو سره د سولې خبرې بېرته پیل شي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وايي، ډېر ژر به په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاوو تر منځ د سولې خبرې بیا پیل شي.

د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وايي، دغه وزارت دوحې ته د افغان سولې د مرکچي پلاوي د هغو غړو د بیا استولو د تخنیکي او لوجستیکي اسانتیاوو په برابرولو کار پیل کړی، چې اوسمهال په افغانستان کې دي.

انوري زیاتوي: «د افغانستان اسلامي جمهوریت د مذاکراتي پلاوي ځینې غړي چې اوس په افغانستان کې دي، د سولې په چارو کې د دولت وزارت د هغوی د تخنیکي او لوجستیکي اسانتیاوو د برابرولو لپاره پوره کار کوي او په نږدې راتلونکي کې به دغه پلاوی بېرته د مذاکراتو ځای ته لاړ شي او مذاکرات به له هغه ځایه چې درېدلي وو، پیلوي.» انوري وايي، له اختر وروسته د افغان دولت او طالبانو د ځینو مرکچي پلاوو د غړو تر منځ یوه رسمي او څو غیر رسمي ناستې شوي، چې د مذاکراتو د ژر پیل او چټکتیا په اړه پکې ټینګار شوی دی.

تر دې وړاندې داسې راپورونه موجود وو چې له کوچني اختر وروسته به د سولې لپاره د ترکیې د ناستې نېټه هم مشخصه شي، خو د سولې چارو وزارت وايي، تر اوسه د دې ناستې وخت نه دی مشخص شوی. د یاد وزارت ویانده ناجیه انوري وايي، افغان حکومت ورته پوره چمتووالی لري.

بلخوا طالبان هم وايي چې دوی د بین الافغاني خبرو اترو د بېرته پیل لپاره چمتو دي. د دغې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد وايي: «له روژې او اختر وروسته زموږ د مذاکراتي ټیم سفرونه پای ته رسېدلي او اوس خپل ځای کې دي، نو د مذاکراتو جریان به انشاءالله د دواړو خواوو د ټیمونو په موافقه پرمخ ځي.»

د یادونې ده چې د افغان حکومت او طالبانو د مرکچي پلاوو ترمنځ له څه باندې درېو میاشتو راهیسې د بین الافغاني مذاکراتو لړۍ درېدلې ده. افغان حکومت او طالبان داسې مهال د بین الافغاني مذاکراتو د بېرته پیل لپاره چمتووالی ښیي، چې د ځینو نورو هېوادونو چارواکو هم د افغان جګړې پر سیاسي حل ټینګار کړی.

تازه د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف له تاس خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي، طالبانو ته مو په واضح ډول ویلي، چې په افغانستان کې یې د واک د انحصار کولو د هڅو مخالف یو. لاوروف دا هم ویلي چې مسکو د زور له لارې واک ته د رسېدو سره هېڅکله موافق نه دی.

## لوېدیځ رسنۍ: امریکا له ډېرو قربانیو او مالي لګښتونو سره سره، په افغانستان کې خپلې موخې ترلاسه نه کړې

ستارز اند سټرایپس ورځپاڼې ویلي چې په افغان جګړه کې د وژل شویو امریکایي سرتېرو کورنۍ له دغه هېواد څخه د خپلو ځواکونو پر وتلو خوښ دي، خو ټینګار کوي چې دوی هیله لري افغانستان یو ځل بیا د ترهګرو په خوندي ځاله بدل نه شي.

ورځپاڼې د یو شمېر وژل شویو سرتېرو له کورنیو سره مرکه کړې او هغوی ورته ویلي، دوی ځکه د امریکایي سرتېرو پر ستنولو خوښ دي، چې نه غواړي نور امریکایان هم د دوی په څېر د خپلو اولادونو، وروڼو او پلرونو په وير کېني. دوی دغه راز د افغانانو د برخلیک په اړه هم اندېښمن دي. ورځپاڼې پر یادو اندېښنو سربېره ویلي، امریکا د طالبانو د ماتولو لپاره دغه هېواد ته تللې وه، خو د دوه زرو په شاوخوا کې سرتېرو د قربانولو ترڅنګ یې په ملیاردونو ډالرو لګښت سره هم دغې ډلې ته ماتې ورنه کړه.

د ورځپاڼې په باور دا هغه څه دي چې ډېری امریکایان یې په اړه پوښتنه لري، خو دولت ورته تر اوسه معقول ځواب نه دی ورکړی. بلخوا پخواني امریکایي چارواکي پر پاکستان نیوکه کوي چې د افغان جګړې په پای ته رسولو کې یې له امریکا سره اړینه همکاري نه ده کړې او تل یې دوه ګونی رول لوبولی دی.

د امریکایي پوځ د مرکزي قوماندانۍ پخواني قوماندان جنرال جوزف ووټل په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي، پاکستان په افغانستان کې د جګړې له ختمولو سره اړینه همکاري نه ده کړې او په دې برخه کې یې رښتینو هڅو ته اړتیا ده. د ووټل په خبره، پاکستان که په رښتیا په افغانستان کې د جګړو ختمول غواړي، نو تر هر څه وړاندې دې د په پاکستان کې د طالبانو مرکزونه له منځه یوسي او د سولې په برخه کې دې هڅو ته ادامه ورکړي.

هغه همدا راز ویلي، پاکستان دې د طالبانو پر مشرانو فشارونه راولي، څو دوی سولې ته حاضر شي او له جګړو لاس پر سر شي. تر ووټل وړاندې هم ګڼو امریکایي چارواکو پاکستان د طالبانو په ملاتړ تورن کړی او ویلي یې دي چې د سولې له پروسې سره رښتینې همکاري نه کوي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي پنځمه | د ۲۰۲۱ د مي ۲٦مه | ۷۲۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | ۳۷ | ۳۳ | ۳۶ | ۳۹ | ۲۹ |
| ۱۴ | ۲۱ | ۲۲ | ۲۴ | ۲۳ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۳ | لمر ختل ۰۴:۴۵ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۴:۴۹ | ماښام ۰۶:۵۶ | ماخوستن ۰۸:۳۱

نړۍ



**بلینکن: د اسراییل او فلسطین ترمنځ د راتلونکو نښتو د مخنیوي په پار په نویو پلانونو کار کوو**

۳

## راپورونه: د هند په ختیځو سواحلو کې د سخت توپان له کبله لسګونه زره کسان بې ځایه شوي



د راپورونو له مخې، د هند په ختیځو ساحلي سیمو کې د سخت توپان له کبله د دغه هېواد له دوو ایالتونو لسګونه زره کسان بې ځایه شوي دي.
د یاس په نامه دغه زورور سمندري توپان چې د هند د هوا پېژندنې د ادارې په وینا، د باد سرعت یې په ساعت کې ۱۷۷ کیلومتره دی، د اودیشه او لوېدیځ بنګال ایالتونو ساحلي سیمو ته رسېدلی دی.
دغه توپان داسې مهال هند ګواښي چې د کروناویروس پر وړاندې د دغه هېواد مبارزه د توکتای توپان په وجه ځنډېدلې چې لس ورځې مخکې یې د هند لوېدیځ ساحل وځپه او څه د پاسه ۱۴۰ کسان یې مړه کړل.
د هند د بېړنیو پېښو پر وړاندې د مبارزې اداري رییس اس ان پردهان وایي، د بېړنیو مرستو زرګونه کارکوونکي د دغو دوو ایالتونو ساحلي سیمو ته استول شوي چې د خلکو د ایستلو په چارو کې مرسته وکړي.
د هغه په وینا، د هند هوایي او سمندري ځواکونه د مرستو لپاره د تیارسی په حال کې دي. کب نیوونکو او بېړیو ته ویل شوي، چې تر راتلونکي خبرتیا پورې ځانونه په امن کړي.
د یادونې ده چې د تېر کال په مې میاشت کې په دغه هېواد کې په امپان نومي توپان کې نږدې ۱۰۰ کسان مړه شول چې د لوېدیځ بنګال په ګډون د هند ختیځې سیمې یې ځپلې وې او په څو لسیزو کې بېساری و.

## ښخانوسکایا: نړیواله ټولنه دې د بېلاروس د مستبد مشر لوکاشینکا مخه ونیسي

د بېلاروس د اپوزسیون مشرې سویتلانا ښخانوسکایا له نړیوالې ټولنې غوښتي چې د بېلاروس د مستبد مشر الکساندر لوکاشینکا مخه ونیسي. ښخانوسکایا دا خبره وروسته تر دې کړې چې د بېلاروس ځواکونو د راین ایر یوه الوتکه چې د یونان او لېتوانیا ترمنځ یې ورمه ورځ سفر کاوه، راوګرځوله او یو خبریال رامان پراتسیویچ چې د اپوزسیون له فعالانو څخه ګڼل کېږي، د هغه له ملګرې سره یوځای توقیف کړل. د اروپايي ټولنې یو شمېر مشرانو دې پېښې ته د دولت په کچه د برمته کولو نوم ورکړی دی. ښخانوسکایا تېر کال تر ټاکنو وروسته د ځان له وېرې له بېلاروسه ووته او اوس په لېتوانیا کې په جلاوطنۍ کې ژوند کوي. نوموړې په خواله رسنیو کې ویلي، چې د لوکاشینکا له لوري له څو میاشتو راهیسې د مخالفانو او ازادو خبریالانو له ځپلو وروسته اوس هغه وخت رارسېدلی، چې د سرغړوونکو د محاکمې لپاره د ګډو ګامونو د اخیستو لپاره سلا مشورې وکړو. ښخانوسکایا دا غوښتنه په داسې وخت کې کړې ده چې د امریکا ولسمشر جو بایډن د منسک له لوري د الوتکې راښکته کول وغندل او دا پېښه یې ظالمانه وبلله. ولسمشر بایډن وویل چې له خپلو اروپايي متحدانو سره به په همغږۍ ځواب ورکړي.

## منابع: احتمال دارد در آینده نزدیک پاکستان نشستی را در باره صلح افغانستان میزبانی کند



برگزاری نشستی در باره صلح افغانستان در پاکستان پس از سفر لوی درستیز پاکستان به کابل مطرح شده است. منابعی در ارگ و شورای عالی مصالحه ملی می پذیرند که احتمال دارد پاکستان نشستی را در باره صلح افغانستان میزبانی کند.
این منابع می افزایند که کوشیده می شود تا این نشست در پاکستان به سطح رهبری میان حکومت افغانستان و گروه طالبان برگزار شود. اما طالبان از برگزاری چنین نشستی اظهار بی خبری می کنند.
همزمان با تحرک ها در مذاکرات صلح در دوحه، پاکستان نیز در تلاش است تا از نشستی در باره صلح افغانستان میزبانی کند.
منابعی از ارگ و شورای عالی مصالحه ملی می گویند که تا اکنون برگزاری این نشست نهایی نیست، اما دو طرف در این باره رای زنی کرده اند. طاهر خان، خبرنگار پاکستانی، گفت: «پاکستانیان می گویند که یک خواهش مقام های افغان این بود که پاکستان یک نشستی را با رهبری اینان و رهبری طالبان زمینه سازی کند، اما تا هنوز نشده است و حالا هم فکر نکنم که این کار در آینده نزدیک ممکن باشد.»
برگزاری نشستی در باره صلح افغانستان در پاکستان پس از سفر لوی درستیز پاکستان به کابل مطرح شده است - نشستی که برای کشانیدن طالبان برای دست یابی به یک توافق سیاسی مهم دانسته می شود.
عنایت الله بابر فرهمند، معاون نخست شورای عالی مصالحه ملی، گفت: «سفر هایی که مقامات پاکستانی در افغانستان داشتند، شاهد بودیم که ظاهراً دیده می شود تغییرات مثبت در رویکرد مقامات پاکستانی نسبت به ختم جنگ و تامین صلح در افغانستان وجود دارد.»


CoAR 1989
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
اعلان داوطلبی
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه حمایه اطفال تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت کندز یک تعداد کیت‌های استادان، متعلمین و سایرکیت‌ها خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (26May /2021) الی (3 Jun /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:
خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af



کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank